# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۲۸ ګڼه / سه‌شنبه ۰۷ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۸ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۱٦ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


## څه باندې ۲۵۰۰ ټنه جلغوزي نورو هېوادونو ته صادر شوي

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، په ۱۴۰۲ هجري لمريز کال کې څه باندې ۲۵۰۰ ټنه جلغوزي نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. د دغه وزارت وياند زياتوي، دغه جلغوزي چې ټول ارزښت يې، شاوخوا ۲۷ ميليونه ډالره کېږي، تر ډېره



هند، چین، پاکستان، متحده عربي امارات او امريکا ته صادر شوي دي. له دې سره سم د کانونو او صنايعو خونه وايي، د جلغوزيو د صادراتو د ډېربښت لپاره بايد د هوايي دهلېزونو په برخه کې اسانتياوې رامنځته شي.

## تهران: به مخالفان امارت اسلامی اجازه فعالیت سیاسی را نمی‌دهیم




سید حسن مرتضوی، معاون سفارت ایران مقیم کابل در دیدار با مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی رئیس‌الوزرا گفته که کشورش به مخالفان امارت اسلامی اجازه فعالیت سیاسی را نمی‌دهد.

معاون سفارت ایران افزوده که مخالفان امارت اسلامی به‌گونه عادی و همانند میلیون‌ها مهاجر دیگر افغانستان در ایران زندگی می‌کنند.

این مقام ایران تاکید کرده که کشورش تلاش می‌کند تا مسیر تعامل مثبت کشورهای همسایه و منطقه را با امارت ... ص۳

## ټول هېواد کې د ورځې په منځنۍ کچه ۱۳نیم سوه ټنه نفت ایستل کېږي

د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکي وايي چې په ټول هېواد کې اوسمهال د ورځې په منځنۍ کچه شاوخوا ۱۳نیم سوه ټنه نفت استخراجيږي. د دغه وزارت د مسوولينو په قول، دمګرۍ په ټول هېواد کې د نفتو شاوخوا ۲۴ فعالې څاه ګانې شته چې د ورځې ۱۳نیم سوه ټنه نفت ترې را ايستل کېږي.

د یاد وزارت ویاند همایون افغان ویلي چې د افغانستان په ۲۰۰زره کیلومتره مربع مساحت کې نفتي ساحې شته چې په پنځو لويو حوزو وېشل شوې دي. د کانونو او پټرولیم وزارت زیاتوي چې د اوس لپاره یوازې د امو دریا نفتي حوزه له یوې چنايي کمپنۍ سره قرارداد کړی چې ... ۳مخ



## سرمقاله

### حمله ایران بر اسرائیل؛

## سیلی محکم بر اسرائیل یا مرهمی برای فلسطین

ادامه مقاومت مجاهدین فلسطین در غزه و زمین گیر شدن رژیم صهیونیستی در این منطقه، نه تنها که زمامداران رژیم سفاک را در تنگناه سیاسی ونظامی قرار داده، بلکه جنون و سادیسم را نیز بر روح و روان شان مستولی کرده تاحدی که عواقب و فرجام کارهای شان را در نظر نگرفته مرتکب کاری می شوند که مدیریت آن کاریست دشوار. هر چند مقاومتگران فلسطین در نبرد غزه، چنان درس عبرتی را بر رژیم غاصب اسرائیل دادند که حتی حامیانش نیز بعد از جنگ جهانی دوم تاکنون تجربه نکرده بودند، اما با تأسف جنون بی حد نتانیاهو صدراعظم رژیم صهیونیستی وعدم توجه جامعه جهانی به ویژه امریکا، دارد امنیت جهان را تهدید و آنرا به مخاطره می اندازد، زیرا نه تنها شیر برفی رژیم صهیونیستی در جنگ غزه آب شده، بلکه چلوصاف حامیان این رژیم نیز توسط مجاهدین پابرهنه ی افغانستان از آب تهی گردید، بنابرین تاخت و تاز رژیم صهیونیستی و نقض صریح حریم هوایی و هدف قرار دادن نمایندگی دیپلوماتیک جمهوری اسلامی ایران توسط این رژیم سفاک در دمشق، نمایانگر اینست که آنروز دور نخواهد بود که جهان بااین وسعت اش بر یهودیان تنگ گردد و هیچ مکانی در این کره خاکی برای شان امن نخواهد ماند.

اگر چه کشورهای اسلامی در برابر بغاوت های رژیم صهیونیستی در غزه و جنایات این رژیم بر زنان، کودکان و غیر نظامیان، خویشتن داری کردند، اما این گذشت و خویشتن داری شان ناشی از باور وعقیده شان نسبت به دین انسان ساز اسلام، یعنی دین صلح، آتشی و آرامش است و گرنه ایمان، شجاعت و استقامت مسلمانان بر جهان غیر اسلام واضح و روشن است. زیرا مسلمانان در جنگ علیه کفار در دو حالت پیروز دنیا و آخرت اند، اگر شهادت نصیب شان گردد هم جنت در انتظار شان است و گر غازی هم شوند، جنت نصیب شان می گردد، پس در اینصورت قطعاً مسلمانان پیروز و غالب اند.

حمله شنبه شب جمهوری اسلامی ایران بر اسرائیل در پاسخ به حمله راکتی رژیم غاصب بر کنسلگری ایران در دمشق، نمایانگر دفاع مشروع ایران در مقابل بغاوت رژیم صهیونیستی و به نمایش گذاشتن توانایی نظامی این کشور است.

هر چند این حمله از سوی کشورهای غربی محکوم گردید، اما کشورهای منطقه این حمله ایران را حق به جانب و سیلی محکمی بر روی اسرائیل و مرهمی بر فلسطینیان خواندند.

روی این اساس کشورهای قدرتمند و مطرح دنیا به جای اینکه قضاوت غیر عادلانه نمایند و جنایات وحشیانه رژیم صهیونیستی بر غزه را نادیده بگیرند و با سخنان تحریک آمیز تنش های موجود میان ایران و اسرائیل را افزایش دهند، بهتر است که هر دو جانب را به خویشتن داری وتفاهم دعوت کنند، زیرا اگر شعله های آتش جنگ وسعت پیدا کند، بدانند که این آتش روزی دامن آنان را نیز خواهد گرفت. ص۳

## وروستیو اورښتونو زرګونه کورنۍ تاواني کړې

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وايي، په هېواد کې د بارانونو وروستۍ څپې او په ځينو ولايتونو کې د سېلابونو د راوتلو له کبله ۳۳تنه شهيدان او ۲۷ تنه نور ټپيان شوي دي. د دې وزارت وياند مولوي محمد عبدالله جان سايق ويلي، د سېلابونو له کبله ۶۰۶ کورونه په بشپړ او قسمي ډول ويجاړ او ۱۹۵۰ جريبه کرنيزه ځمکه تخريب شوې ده. ښاغلی سايق وايي، د سېلابونو له امله له زرو زياتې کورنۍ هم

نوموړي همدارا‌ز زياته کړې، چې د ورې مياشتې له پيله تر اوسه يې له ۲۲زره ۸۵۱ څخه زياتو زيانمنو او بې وزله کورنيو سره د ملي او نړيوالو مؤسسو په همکارۍ بېړنۍ مرستې کړې او دا لړۍ لا هم دوام لري. دا په داسې حال کې ده، چې د سېلابونو رامنځته کېدو په لومړنيو ساعتونو کې پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت، ملي دفاع، کورنيو چارو، ټولګټو او عامې روغتيا وزارتونو او سيمه ييزو مسئولينو سره په همکارۍ زيانمنو سيمو ته



زيانمنې شوې او په ټول هېواد کې د نږدې ۸۵ کيلومتره سړکونه او فرعي لارې د ويجاړېدو ترڅنګ ۲۰۰ څاروي هم تلف شوي دي.

د ژغورنې او مرسته کوونکو ټيمونه رسېدلي او په بېړه توګه يې د ژغورنې او مرستې رسونې عمليات تر سره کړي دي.

## د کابل - آستان د سوداګرۍ پر زیاتوالي ټینګار وشو




د هرات والي شيخ نوراحمد اسلام جار د قزاقستان له سفير سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخيزو همکاريو پر زياتوالي او اقتصادي اړيکو خبرې وکړې.

په دې کتنه کې د شيخ اسلام جار سربېره، د هرات ولايت د والي مرستيال، د بهرنيو چارو وزارت د استازولۍ مرستيال او د هرات د سوداګرۍ او صنايعو ... ۳مخ

## سرپرست وزارت معارف از مکاتب و مدارس دینی هرات دیدار کرد



مولوی سید حبیب‌الله آغا سرپرست وزارت معارف در سفرش به هرات، درکنار ملاقات با مسوولان ریاست معارف آن ولایت، از شماری مکاتب و مدارس دینی هرات نیزدیدن کرد.

دفتر رسانه های ریاست معارف هرات به آژانس باختر گفت: سرپرست وزارت معارف کشور در جریان بازدید از مکاتب و مدارس، روی بهبود کیفیت... ص۳


د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء! ۲

خپله مبارزه څنګه مثمره وګرځوو! ۲

د هدایت څراغونه ۲

افغان اعلانات ۳


## یک شناگر افغان دو مدال طلا و یک برنز کسب کرد

عباس کریمی شناگر افغان مقیم در آمریکا، در رقابت‌های (ورد سیریس)، به دو مدال طلا و یک مدال برنز دست یافته است.

کریمی در صفحه فیسبوکش نوشته است که در رقابت‌های ورد سیریس به دو مدال طلا و یک مدال برنز دست یافته است.

او در رقابت‌های ورد سیریس در سه بخش رقابت کرده و دربخش‌های ۵۰ متر پروانه و آزاد مدال طلا و در بخش ۵۰ متر کرال پشت مدال برنز کسب کرده است.

قراراست عباس کریمی در ماه های آینده در رقابت‌های پارالمپیک پاریس نیز شرکت کند.

## د اورښتونو له امله د اوبو کچه زیاته شوې



د غزني ځايي مسوولين وايي چې د دغه ولايت د ګرمابه چک ډېم کاسه له اوبو ډکه شوې ده. د غزني ولايت په ده يک ولسوالۍ کې د ګرمابه چکډېم کاسه تېر کال د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري جوړه شوې وه چې کاسه يې اوسنيو اورښتونو ډکه کړې ده. د غزني

سينديزې فرعي حوزې تخنيکي ټيم د سيمې اوسيدونکو ته ددغې چک ډېم د ساتنې اړوند اړينې لارښوونې کړې دي. د يادونې ور ده، چې نوموړې چک ډېم د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ په تاسن کلي کې د موسمي سېلابونو مخه هم نيولې ده.

## نزدیک به ۲۰ عراده تانکر تیل بی‌کیفیت به ایران مسترد شد

اداره ملی نورم و ستندرد می‌گوید، ۱۹ عراده تانکر، حامل تیل بی‌کیفیت دوباره به کشور ایران مسترد شده است.

این اداره دیروز، از مسترد شدن تانکرهای یادشده، خبر داده است.

بربنیاد معلومات اداره ملی نورم و ستندرد، تیل تانکرهای که قرار بود وارد کشور شود، با ستندردها برابر نبوده و از ورود آن به بازارها، جلوگیری صورت گرفته است.

در خبرنامه از تمام تاجران کشور خواسته شده که از وارد کردند مواد نفتی بی‌کیفیت جلوگیری کنند.

اداره ملی نورم و ستندرد هشدار داده که با هر متخلف، برخورد قانونی خواهد شد.

پیش از این نیز اداره ملی نورم و ستندرد از ورود تیل‌های بی‌کیفیت به کشور، جلوگیری کرده است.



# د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء!

**لومړۍ برخه - م حمادشیرزاد**

د لیکنو په یاد تسلسل کې به د منځنۍ آسیا/ شرقي ترکستان او ماوراء النهر ځینو مشهورو تاریخي سیمو چې د اسلامي تمدن، تهذیب، ثقافت او کلتور له امله یې شهرت وموند، لنډ حالات، اوسنی موقعیت او په کې د تېرو شویو لویو او سترو علماؤ، چې د اسلامي تاریخ له جمهورو او منلو شویو علماوو څخه دي، لنډه یادونه وکړو.

منځنۍ آسیا د اوومې میلادي پېړۍ راهیسې له اسلامي تمدن سره تړاو لري، کله چې صحابه کرامو او بیا نورو عربو اتلانو د منځنۍ آسیا زیاتره سیمې فتحه کړې، خلک یې مسلمانان شول، نو یادو سیمو کې د علم، فلسفې، احادیثو، طب او نورو فنونو لوی لوی پوهان پیدا او نړۍ ته یې د خپلو استعدادونو او وړتیا له مخې ستر خدمتونه وړاندې کړل، چې نن یې هم موږ د احسان پوروړي یو. که څه هم د منځنۍ آسیا خلکو کوچیانی ژوند تېرولو، کله په یوه او کله په بله سیمه او اوسني وخت کې د موروثي تقسیم له امله یادې سیمې په یو او بل هېواد کې تقسیم شوې، چې پخوا یې ورته د ماوراء النهر یا هم د نهر جیحون تر څنګ سیمې ویلې، لکه سمرقند، بخارا، ترمذ، نسا او ځینې نورې، چې نن سبا په ازبیکستان کې زیاتره موقعیت لري، په ترتیب سره د یوې یوې سیمې او په کې د تېرو شویو جمهورو او مشهورو علماؤ یادونه کوو ان شاءالله.

**سمرقند:**

سمرقند د اسلامي تمدن له ټولو لویه او مشهوره سیمه ده، یاده سیمه په اوسني ازبیکستان کې موقعیت لري، چې پخوا یې ورته د ماوراء النهر د سیمو پلازمېنه ویله، ځینې عربي مسافرو/ سیاحینو یاده سیمه د زرغون سیند پر غاړه د یو یاقوت په څیر یاده کړې ده، د سمرقند اصلي نوم په ځینو تاریخونو کې د «اسمارا» په نوم یاد شوی، چې د «تیږو قلعه» معنی ورکوي، تاریخ وایي چې یاد ښار د کیکاوس بن کیکباد جوړ کړی، ځینې بیا سکندر اعظم او زیات بیا وایي چې یاد ښار د شمر/ سمر ابو کرب له لوري جوړ شوی، چې نوم یې هم سمرقند کېښودل شو.

**د سمرقند فتحه!**

یاده سیمه په لومړي ځل د سعید بن عثمان رضي الله عنه په لاس د سولې او خبرو له لارې ۵۵ هجري- ۶۷۵میلادي کال کې فتحه کړه، په دویم ځل بیا د سالم بن زیاد په لاس ۶۱هـ مطابق ۶۸۱مـ کال کې له سخت مقاومت وروسته فتحه کړه، تر دې چې بیا د قتیبه بن مسلم له لوري سمرقند په ۹۲او ۹۳هـ کال فتحه او د نوموړي په لاس په کې د اسلام شغلې او رڼاوې خپرې شوې.

سمرقند د چین او مغرب ترمنځ د وریښمو لارې په درمیان کې پروت د اسلامي تمدن او کلتور تر څنګ د علم او تحقیق یو لوی مرکز پاتې شوی او همدا راز یاده سیمه د امیر تیمور پر وخت د نوموړي د دولت/ سلطنت پلازمېنه هم وه، نوموړي له ختیځ او لویدیځ نه د یادې سیمې د ښایسته جوړولو لپاره، د بېلابېلو فنونو ماهرین راوغوښتل، چې نن هم په کې په لسګونو تاریخي سیمې شتون لري، د امیرتیمور مزار چې مدرسه، جامع جومات او نورې ګڼې ښکلاوې لري، د بي بي خانم جومات او قصر یې، د امام بخاري مزار، الوغ بیګ مدرسه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره زوی قثم بن عباس مزار چې هلته شهید او ښخ شوی او د شاه زنده/ ژوندي پاچاه په نوم هم شهرت لري، قصر دلکشا، قصر بهشت/ روضة الجنة، قصر باغ جناران/ قصر الحور د مشهور فلکي مرزا الوغ بیګ قصر، مشهوره سیمه ریګستان چې له امیرتیمور نه پرته نورو فاتحینو هم په کې قیام ترسره کړی او داسې نور تاریخي ځایونه پکې شتون لري.

**جمهور او لوی علماء!**

په سمرقند کې چې د اسلامي تحقیق او علم یو ستر مرکز و، سلګونه لوی لوی علماء تېر شوي، چې د یو څو جمهورو او مشهورو علماؤ یادونه یې دلته کوو.

۱- مشهور حنفي فقیه او متکلم عالم محمد بن محمود الماتریدي چې په ابو منصور ماتریدي سمرقندي سره شهرت لري، د سمرقند د اړوند سیمې ماترید څخه و او په کال ۳۳۳هـ کې وفات شو، د نوموړي زیات شمېر تصانیف موجود دي چې مشهور یې الاحکام السلطانیة، تفسیرالماتریدي، الرد علی القرامطه، التوحید او همدا راز د الفقه الاکبر د ابو حنیفه رح شرح ده.

۲- مشهور مفسر ابو لیث سمرقندي هم د یادې سیمې له جمهورو علماؤ څخه دی، خپل نوم یې نصر بن محمد بن ابراهیم السمرقندي دی، چې په کال ۳۷۵هـ کې وفات شوی، مشهور تصنیفات یې تنبیه الغافلین، کتاب الفتاوی، بستان العارفین او مشهور تفسیر بحرالعلوم.

۳- د شپږمې صدۍ مشهور فقیه ابوبکر علاءالدین محمد بن احمد بن ابي احمد السمرقندي رح مشهور حنفي فقیه او اصولي عالم چې د تحفة الفقهاء په نوم کتاب یې له ټولو مشهور دی، په کال ۵۳۹هـ کې وفات شو.

۴- أبو القاسم سماعیل بن أحمد بن عمر بن أبي الأشعث السمرقندي، مشهور محدث عالم و، چې دوه کتابه المجلس من امالي ابي القاسم السمرقندي او ما قرب سنده من حدیث ابي القاسم یې مشهور دي، په کال ۵۳۶هـ کې وفات شو.

۵- د پینځمې صدۍ مشهور محدث او امام ابوصالح محمد بن عدي بن الفضل السمرقندي چې ۴۴۴هـ کال کې وفات شوی. او داسې نور..

**نوربیا..**

# د «لاحول ولاقوة الا بالله» حیرانوونکی اغېز!

**ژباړه: امان الدین قاسمي**

مشهور صحابي «عوف بن مالک» (رضی الله عنه) رسول الله ﷺ ته وویل: د الله رسوله! زوی مې درسره جهاد ته تللی و، ټول غازیان بېرته ستانه شوي، خو زما زوی نه دی راغلی.

رسول الله ﷺ ورته کړه: کورته ولاړ، ته او مېرمن دې د «لاحول ولاقوة الا بالله» ذکر پیل کړئ!

کورته په رسیدا، مېرمنې ورته وویل:

رسول الله ﷺ څه سپارښتنه درته وکړه؟

عوف بن مالک (رضی الله) د یادې وظیفې یادونه ورته وکړه، او بیا داوړو ددغه مقدس ذکر په ویلو پیل وکړ

تر دې چې شپه شوه، ناڅاپه چا دروازه وټکوله، عوف بن مالک (رضی الله عنه) ورغی دروازه یې خلاصه کړه، چې وی لیدل، زوی یې د پسونو د یوې رمې سره په دروازه کې ولاړ دی!

عوف بن مالک (رضی الله) په ډېرې هیښنتیا ترې پوښتنه وکړه: چېرته وې او دا رمه دې له کومه کړه؟!

زوی یې وویل:

زه کافرانو ونیولم، او بیا یې کلک په ځنځیرونو وتړلم، ما د ځان خلاصولو هڅه وکړه خو بریالی نه شوم، تر دې چې شپه شوه، بیا مې ناڅاپه داسې حس کړه، لکه د زنځیرونو کړۍ چې پخپله خلاصېږي، تر دې چې پښې او لاسونه مې خلاص شول او د مشرکینو دغه مالونه مې د غنیمت په ډول له ځان سره راوړل.

عوف بن مالک وویل: زموږ او د کافرانو تر منځ خو ډېر واټن دی، څنګه په یوه شپه کې دلته را ورسېدلې؟

زوی یې وویل: په الله قسم، چې کله مې پښې او لاسونه خلاص شول، داسې مې احساسوله، لکه پرښتو چې په خپلو وزرو پورته کړی او روان کړی یم.

عوف بن مالک غوښتل رسول الله ﷺ له یادې پېښې خبر کړي؛ خو مخکې له دې چې د دواړو جهانو سردار ﷺ ته یاد جریان ووایي: آنحضرت ﷺ وار له مخه ورته وویل:

عوفه! زیری مې در باندې، الله ﷻ ستاسې په حق کې دا ایتونه را نازل کړل، ژباړه: (( بیا کله چې د هغو د خپل عدت موده پای ته ورسېږي، نو هغوی په ښه توګه (پخپله نکاح کې) وساتئ یا په ښه توګه له هغو څخه جدا شئ او دوه داسې کسان شاهدان ونیسئ چې په تاسې کې د عدل خاوندان وي او (اې شاهدانو) شاهدي سمه صحیح د الله لپاره اداء کړئ. د دغو خبرو ( په نېکۍ سره د ساتنې) نصیحت هر هغه چاته کېږي چې پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان ولري. څوک چې د الله څخه په وېرېدو کار وکړي، الله به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پیدا کړي.))

(( او هغه ته به له داسې لارې څخه روزي ورکړي، چې هغه لوري ته ګومان هم نه رسېږي. څوک چې پر الله توکل وکړي، د هغه لپاره الله کافي دی. الله د خپل کار پوره کوونکی دی. په یقیني توګه، الله د هر شي لپاره یوه اندازه ټاکلې ده.))

تفسیر ابن کثیر، سورت طلاق.

# پر اسرائیلو د ایران برید

**مولوي نورالحق مظهري**



په اسلامي نړۍ کې غربت، ګډوډیو او ضعف ته په پام هر څوک چې د اسرائیلو پر ضد د مخالفت ږغ پورته کړي مسلمانان یې شا ته درېږي ځکه د یهودو سره دښمني د اصلي مسلمان د عقیدې برخه ده. البته مسلمانان باید تېر تاریخ او د فکري جګړې اسباب هېر نه کړي تر څو د رهبریت په انتخاب کې د سادګۍ او جذباتو ښکار نه شي او د قهرمانۍ د لقب په ورکولو کې عملي لیاقت او عقیدوي اهلیت له پامه و نه غورځوي. د یهودي اسرائیلو پر وړاندې دریځ او د فلسطیني مسلمانانو ننګه کول د هر مسلمان ایماني او وجداني دنده ده، خو هر څه باید د سالم عقل څخه په استفادې دین او تاریخ ته په کتو تر سره شي.

مسلمان باید هره قضیه د ظاهري فرصت څخه په استفادې، د تېر تاریخ څخه په عبرت او د سیاسي بصیرت څخه په ګټې اخیستنې سره تعقیب او تدبیر کړي.

# خپله مبارزه ښکله مثمره کړو!

**محمد قاسم عزام**

اسلامي شریعت د اسلامي دعوت لپاره ځانګړی روند او اسلوب لري، ممتاذ او ناب قواعد یې ورته ابداع او تکوین کړي دي دا اصل په پام کې نیول په کار دي، چې موږ د الله سبحانه وتعالی د دین او اسلامي نظام دعوتګران یو، زموږ دعوت به په حکمت او ښه پند سره وي ، لکه ښنګه چې الله تعالی فرمایي : ژباړه : (خلکو ته ) د خپل رب لارې ته په حکمت او ښه پند بلنه ورکړه .

د حکمت د معنی په اړه علماؤ کرامو ډېر څه لیکلي، خو په لنډ ډول حکمت په عامه اصطلاح کې په خپل ځای د هر شي ایښودلو ته وایي ،مګر دلته د حکمت معنی د نورو سره په برخورد کې نرمي د نیکۍ طرف ته د تشویق لپاره او د بدۍ نه منع کول او د هغوی سره په ښه شان او په دلیل بحث کول دي، لکه ښنګه چې موږ ته الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي : ژباړه : او د دوی سره په هغه توګه چې تر ټولو لارو ښه ده خبرې اترې وکړه ، د خپلې رأیې لپاره دلیل راوړل (مجادله کول ) په یوه نیکه طریقه، نه داسې چې د جنجال او خشونت سبب وګرځي .

له بده مرغه موږ دغه اصل او جوهر له پامه غورځولی دی، وینو چې زموږ ملګري په ډېره تیزه او خشنه لهجه د سمون هڅه کوي، چې ښه نتایج هم پرې نه دي مرتب، داسې ډېر مبارزین شته چې په ډېرو وړو خبرو خلک له اسلام رخصتوي، نظام خو یې دی د ابا میراث؛

پوهېږو چې دښمن مو ډېر سپین سترګی او درواغجن دی، په دښمنۍ کې له حد څخه تجاوز کوي د خصم او مخالفت هېڅ اصل نه رعایت کوي، سره له دې هم مؤمنو داعیانو ته نه ښایي چې دښمن سره د هغوی په میتود مبارزه وکړي مؤمنانو ته الله عزوجل د هغوی په اذیت او آزار باندې دصبر کولو ویلي دي : ژباړه : «او په هغه څه چې دوی وایي زغم وکړه او په ښه شان له دوی ځان لیرې وساته ».

هغه کسان چې الهي دین طرف ته بلنه کوي، خلک د نیکۍ طرف ته را بولي او له بدو کارونو یې منع کوي د ده دعوت، وعظ او نصیحت به هغه وخت ګټور وي چې په شرایطو برابر وي که په شرایطو ( د حکمت په طریقه ) برابر نه وي، نه یواځې دا چې په دعوت کې به یې اثر نه وي بلکې د اسلام او مسلمانانو لپاره به یوه صدمه شي .

د نبوت او خلفاء راشدینو په وخت کې چې اسلامي دعوت او جهاد په حکیمانه ( د اسلامي شریعت موافق ) توګه روان ؤ په ډېر لنډ وخت کې تقریباً ټولې نړۍ ته دین ورسېدو او اوس چې سلګونه کاله تېر شوي موږ مغلوب یو.

زموږ داعیان (مبارزین) ډېری یې د خپل اکاونټ او فالورز لپاره مبارزه کوي چې خبره یې وزن پیدا او ځان مطرح کړي، دوی د الهي دین او شرعي نظام د دعوت پر ځای خپل ځان ته دعوت کوي ،یعنې د دې پر ځای چې خلک د الله تعالی دین ته دعوت کړي، خلک خپل ځان ته دعوتوي خلکو ته خپل قلم وروپېژني، نو په داسې لیکوال او قلموال به موږ ښنګه لوړ شو.

تقوی چې د مبارز اصلي توخه ده ، هیره کړې یې ده، تقوی په لیکوالۍ کې د حق لیکل او او درواغو تهمت وغیره نه ځان ساتل دي.

کله چې په چا کې تقوی ځای ونیسي د هغه په زړه کې نورانیت پیداکېږي،د پوهې او ادراک قوه یې لوړېږي او الله تعالی د ده لپاره ټولې چارې آسانوي .

الله عزوجل فرمایي : د دعوت لپاره لومړی شرط تقوی ده د اسلامي نظام داعي به د یهودو دعلماؤ په څېر نه وي چې خلکو ته په نیکۍ امر کوي او له بدو کارو خلک منعه کوي خو خپله کوم عمل ورباندې نه کوي، او خلکو ته سپکې سپورې وایي فحش غږوي او ځان لیکوال او قلموال ګڼي؛

د داسې کس په اړه سخت وعید دی

اسامه رضی الله عنه وایي: چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي چې ویې فرمایل :د قیامت په ورځ به یو کس راوستل شي او دوزخ ته واچول شي او په تیزۍ سره به یې کلمې د باندې تویې شي په خپلو کلمو به د خره د څپر په شان غوبل کوي . دوزخیان به د ده چاپیر راټول شي ورته وایي به ای فلانیه ! په تا څه شوي آیا ته نه وې چې موږ ته به مو امربالمعروف او نهی عن المنکر کولو؟ وایي به هو تاسې ته به مې په نیکۍ امر کولو خو خپله به مې نه انجامول او تاسې ته به مې د منکر کار څخه منع کوله خو خپله به مې انجامول.

مبارزه وروره ځان په نورو خلکو لوی ګڼل نه دي پکار تواضع د الله جل جلا له د معرفت او خپل ځان پېژندلو ثمره ده،نو ځکه د اسلام لومړی خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمائیلي : هېڅ مسلمان باید خپل مسلمان ورور حقیر او ذلیل ونه ګڼي، ځکه د ټیټې مرتبې مسلمان هم د خدای جل جلاله په نزد لوی او محترم دی .

اسلامي دعوت کې د خلکو تحقیرول او بې عزته کول ځای نه لري.

د قهر او غوسې په وخت کې د نفس کنترولول، له عقل نه کار اخیستل او د عفوی او بخشش لاره غوره کول پکار دي .همدا د یوه دعوتګر لپاره اساسي شروط ګڼل کېږي، ځکه د دعوت ورکوونکي هدف د زړونو لاس ته راوړل وي او زړونه یوازې په نرمۍ او مهربانه وینا لاس ته راوړل کېږي .

علی رضی الله عنه زړه د یوه حیوان سره تشبه کړی چې یوازې په نرمۍ تابع او مانوس کېږي او بس .

# د هدایت څراغونه

**ګل رحمن رحماني**

د کائناتو مالک د خپلو ټولو سیارو له منځه زموږ د ژوند پر سیاره له ټولو زیاته مهرباني کړې ده. زرګونه کاله وړاندې د زبور اسماني رڼا د دې خاورینې نړۍ په تورتم خوړلو زړونو کې د نامریې رڼا څرکونه وشیندل او داودي زمزمو یې پرېشانه ارواګانو ته د سکون نغمه ور پوه کړه.

لا څه وخت نه و تېر شوی، چې دا دایره لږ نوره هم پراخه شوه او د طور په لمنو کې یوه بل ځلانده لمر د خاورینې ځمکې له مخې د تیارو څادر ټول کړ او حضرت موسی د طور له لمنو د تورات له الهي وړانګو ډکې لپې راستون شو، داسې وړانګې چې بشریت ته لارښودې وې، خو په تاو یې د فرعون د غرور او جعلي خدایۍ څېرې بربنډې او د نېل په څپو کې لولپه شوې.

د کائناتو خالق غوښتل چې د معرفت دا لړۍ لا پراخه شي او انسانان د رڼا په یوه پراخه درشل کې خپل ځان ومومي، د همدې لپاره یې د بي بي مریم د زړه ټوټه په یوه ستر ویاړ ونازوله، د حضرت عیسي په نوراني سینه کې انجیل د اسماني رڼا جام چپه کړ او نړۍ ته یې جلا رنګ او نور ورکړ، خو د خالق د مهربانیو او مینې سمندر لا څپاند شو، غوښتل یې ټول تر یوه روښانه څادر لاندې راټول شي، ځکه یې بشریت ته د خپل وروستي استازي په ژبه د حرا له غاره د «اقراء» سپېڅلې او ارواپاله ناره اوچته کړه.

هو؛ د فرقان په تر ټولو ځلانده لمر یې د حق او باطل بریدونه تر ابده روښانه کړل، دا خاورینه کره لا ارزښتمنه شوه او زموږ پر سر یې د ویاړونو هغه امتي تاج راکېښود، چې تر موږ وړاندې ملتونو یې له ارمان سره له دې نړۍ مخه ښه کړې وه، خو اه او افسوس زموږ ناشکرو په غفلت او حالت چې لا هم د هدایت له دغه وروستي او نه مړه کېدونکي څراغه د شیطان خوا ته پټې سترګې روان یوو او د «اقراء» له هماغه زمزمو مو خپل تورتم وهلي زړونه ګوښه او خاموش ساتلي دي.

## د ایران او افغانستان سوداګري؛ له ایرانه ...

وويل، چې افغانستان ته د ایران د تېلو صادرات په ۱۴۰۲ کال کې یو میلیارد او ۸۷۱ میلیونه ډالرو ته رسېدلي چې د همدې وخت په پرتله ۱۳،۶ سلنه زیاتوالی ښيي.
په افغانستان کې د ایران د سوداګرۍ سلاکار وويل، افغانستان ته د ایران د غیر تیلو صادراتو ارزښت د ۱۴۰۲ کال په وروستیو دولسو میاشتو کې ۲۲۴ میلیونه ډالره او وزن یې ۹۶۳ زره ټنه زیات شوی، چې د ایران د غیر نفتو صادراتو ټولیز ارزښت جوړوي.
افغانستان په۱۴۰۲ کال کې۱،۸۷۱ ملیارد ډالرو ته رسیدلی او د وزن له پلوه۳۴۱۴ ټنو ته رسیدلی چې د تیر کال په پرتله په وزن کې۲۸٪ زیاتوالی راغلی.
د سوداګریزو هیئتونو د شمېر زیاتول، د پولو په اوږدو کې د اسانتیاوو برابرول او په ګمرکونو کې د کاري ساعتونو غځول، په تهران کې د دواړو هېوادونو د ګډ اقتصادي کمېسیون د غونډې ترسره کېدل په کابل، هرات، تهران او مشهد کې د سوداګرۍ کنفرانسونه، په هرات کې د ایران د صادراتي ظرفیتونو د ځانګړي نندارتون جوړېدل، د څه باندې پنځوسو نندارتوني پلاوي تبادله او نور د دواړو هیوادونو پر سوداګریزې راکړې ورکړې اغېزمن لاملونه دي.

## ټول هېواد کې د ورځې په منځنی ...

هلته د اکتشاف، استخراج او د نفتي ځاګانو کېندلو کارونه دوام لري. د یادونې وړ ده چې د کانونو او پټرولیم وزارت هوډ لري، تر څو هېواد کې د فعالو نفتي څاه ګانو شمېر تر دې هم لوړ کړي.

## به مخالفان امارت اسلامی اجازه ...

اسلامی، هموار سازد.
در همین حال، مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی امارت اسلامی یک بار دیگر حمله ایران به اسراییل را حق دفاع مشروع تهران از خودش بیان کرده است. معاون سیاسی رئیس‌الوزرا ضمن قدردانی از برخورد دولت ایران با مهاجران افغان خواستار گسترش روابط میان کابل و تهران شده است.
این مقام امارت اسلامی تاکید کرده که کابل خواستار روابط خوب با همه کشورهای همسایه است.
گفتنی‌است که ایران از بیش از دونیم سال گذشته در بخش‌های مختلف روابط خود را با افغانستان گسترش داده.

## د کابل ـ آستانه د سوداګرۍ پر ...

خونې رییس برخه اخیستې وه.
په دغه ناسته کې دواړو لوریو د سوداګرۍ د اسانتیاوو او د سوداګرۍ د حجم پر زیاتوالي خبرې وکړې. دغه راز، د سوداګرو تر منځ پر تبادلې، د ګمرکي تعرفو پر کمولو او د سوداګرو د ستونزو د حل او د ویزو د ورکړې په اړه بحث وشو.
دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د افغان او قزاقي مسوولینو ترمنځ په دې ولایت کې د سوداګرۍ ګډه خونه هم پرانیستل شوې وه.

## سرپرست وزارت معارف از مکاتب و مدارس ...

درسی تأکید نموده و پای‌بندی مسئولان و شاگردان نهادهای تعلیمی را به ارزش‌های دینی و اسلامی مهم خواند.
وی همچنان وضعیت درسی معارف را مورد ارزیابی قرار داده و در جریان بازدید از صنوف درسی شاگردان، از آنان خواست تا با روحیهٔ قوی و انگیزهٔ عالی در مسیر کسب علم و دانش گام بردارند.
سرپرست وزارت معارف دو روز قبل به هدف بررسی وضعیت آموزشی و تربیتی معارف به هرات سفر کرده است.

## سیلی محکم بر اسرائیل یا ...

بناً اگر رژیم صهیونیستی و حامیانش به سلاح ها و تسلیحات عصری، مدرن و مدهش غره اند، این را درک کنند که اگر این سلاح ها و تکنالوژی کارا واقع می گردید، امروز غزه توسط رژیم غاصب کاملاً تسخیر و جنگ به نفع این رژیم به پایان می رسید.
بنابرین حالا که با گذشت هر روز چهره واقعی نهادهای بین المللی و کشورهای غربی بر ملا می گردد، بهتر است تا کشورهای اسلامی با کنار گذاشتن سوی تفاهم و مخالفت های جزئی در یک صف واحد پیرامون قضیه فلسطین قرار گیرند و نگذارند تا ملت مظلوم فلسطین بیشتر از این توسط رژیم اشغالگر شکنجه شوند.

## برگزاری نمایشگاه سه روزه ...

تجارت پروان افزود که این نمایشگاه همه ساله در ولایات مختلف برگزار شده که این بار در پروان با ایجاد ۱۰۰ غرفه هم برای زنان و هم برای مردان برای مدت سه روز برگزار شده است.
مفتی محمد ادریس انوری معاون والی پروان، ضمن آنکه از برگزار کنندگان این نمایشگاه قدردانی نمود، گفت: فضا و ماحول کشور امروز برای هر نوع فعالیت های اقتصادی، انکشافی و فرهنگی مساعد شده است.
معاون والی پروان، برگزاری این نمایشگاه را برای نظام اسلامی افتخار دانسته گفت: شما مطمن باشید که از اثر تلاش های رهبری نظام امارت اسلامی، کشور ما در سالهای آینده به یک کشور صنعتی و صادراتی مبدل خواهد شد.
وی از تعهد امارت اسلامی در قبال حمایت تاجران و صنعت کاران اطمینان داده از همه تاجران و سرمایه گذاران خواسته تا در راستای خود کفایی کشور تلاش بیشتر نمایند.
حافظ ولی گل جواد، رئیس کلتوری شاروالی کابل، برگزاری این نمایشگاه را یک دستاورد بزرگ به سطح کشور دانسته از داشته های این نمایشگاه ابراز خرسندی نمود.
انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور، در قسمت پروژه ها و برنامه های انکشافی و اقتصادی امارت اسلامی اشاره نموده گفت که همه صنعت کاران و سرمایه گذاران تحت حمایت این نظام قرار داشته که پلان ها و برنامه های خوبی برای رشد آنان روی دست گرفته شده و مشکلات آنان نبود برق و رونق بازار مرفوع خواهد شد.
وی از فراهم سازی منبع انرژی و ایجاد پنج زون برای پروسس و جمع آوری تولیدات و محصولات جهت صادرات به خارج از افغانستان اطمینان داد.

## سرازیر شدن سیلاب در ننگرهار تلفات ...

بربنیاد خبرنامه، سیلاب در ولسوالی چپرهار یک کودک را با خود برده در ولسوالی مومندره در نتیجه فروریختن سقف یک خانه یک نوجوان کشته شده است.
در خبرنامه گفته شده که در نتیجه سرازیر شدن سیلاب در ولسوالی‌های لعلپور، حصارک، دُربابا و برخی ولسوالی‌های دیگر ولایت ننگرهار، ده‌ها راس مواشی نیز تلف شده‌اند.
گفته شده که سیلاب‌ها ده‌ها جریب زمین زراعتی را نیز تخریب کرده است.
هرچند دفتر سخنگوی والی ننگرهار از تخریب خانه‌ها و راه‌های عمومی و فرعی در نتیجه سیلاب‌ها خبر داده اما در مورد ارقام دقیق آن چیزی نگفته است.

## کندهار او ارزګان کې ...

او ٤٤٦ کورونه له منځه تللي دي.
یادو سېلابونو همداشان دغو ولایتونو کې ۱۰۰۰ جرېبه ځمکه او ۵۰ پل چکونه هم وړي دي.
کندهار کې د سیلابونو او توپاني باد له امله ۴۲۴ شمسي سولرې ماتې شوي او ۱۲۱ پسونه لاهو شوي.
همدا راز مسوولین له سیلابونو څخه د هوایي ځواک په وسیله د دوو ماشومانو په ګډون د ۷ تنو هیوادوالو دژغورلو خبر هم ورکړی دی.
بل پلو، امنیتي ځواکونو په ګنو ولایتونو کې د هیوادوالو لاسنیوی کړی او اوبو کې ایسار ګڼ کسان یې په شته امکاناتو د مرګ له کومې راویستي.

# افغان اعلانات

### دعوت به داوطلبی

نام پروژه: خریداری تجهیزات مورد نیاز ترمیم ترانسفارمرها
د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (خریداری تجهیزات مورد نیاز ترمیم ترانسفارمر ها) دارای کود نمبر (برشنا /۱٤۰۳/باز ملی/اجناس-۰۹۸-اعلان مجدد) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قراردادها به دست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون وطرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۳/۰۲/۱۹ به ریاست تهیه و تدارکات د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.
۱- تضمین آفر: مبلغ ۷۵۰۰۰۰ افغانی
۲- آفرگشایی: جلسه آفرگشایی روز چهارشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰۳/۰۲/۱۹ برگزار میگردد.
۳- آدرس و محل آفرگشایی: منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.
٤- آدرس اداره: د افغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.
برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۳٦۷۷
آدرس الکترونیکی:
abduljalal.hasas@dabs.af
saber.t@dabs.af

***

### اطلاعیه لیلام

وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی در نظر دارد تعداد(۲) عراده موتر خویش را که در هنگرهای یکه توت نگهداری میگردد از طریق مزایده به لیلام می سپارد. دوایر رسمی ، شرکت های خصوصی و اشخاص انفرادی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ ۱۰ /۲/ ۱٤۰۳ به مرکز وزارت مخابرات واقع پل باغ عمومی مراجعه نمایند ۱۵ فیصد تضمین قبل از آغاز داوطلبی نقدا اخذ می گردد.۳۹۳

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه وثیقه حصر وراثت خط شرعی دارای نمبر ١٦٣٦/٥٩٢٦ مورخ ١٣٩٦/٨/١٧ مرتبه محکمه وثایق حوزه سوم شهر کابل به اسم عبدالقادر فرزند عبدالظاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۲۷۳

***

### اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط دفتر رهنمای معاملات جمشید صدیقی دارنده جواز نمبر ۳۰۸۹ مورخ ۱٤۰۲/۱۰/۲۰ به اسم محترم محمد جمشید فرزند محمد یونس مفقود گردیده و فاقد اعتبار می باشد. ۳٦۸

***

### اطلاعیه

مطابق قرار قضایی تجویزی نمبر ٦۸ مورخ ۱۳۹۳/۲/۳۰ ه ش صادره محکمه ابتدائیه تجارتی ولایت کابل که به اساس فتوی شرعی نمبر ۸٤ مورخ ۱٤٤٥/۳/۲۰ ه ق ریاست دار الافتاء ، نظریه هیئت موظف مقام محترم ستره محکمه ا.ا.ا که مبنی بر تطبیق فتوی شرعی متذکره ابراز نظر نموده اند و همچنان محضر تاریخی ۱٤٤٥/۹/۱ ه ق هیئت موظف تطبیق حکم قطعی محاکم ،مجلس داوطلبی فروش مارکیت تجارتی لوی کندهار واقع قوای مرکز ناحیه دوم شهر کابل به مساحت ۸٤۰ متر مربع دارای شش منزل تعمیر پخته کاری مندرج قباله شرعی نمبر (۳/۳۸) مورخ ۱۳۷۲/۲/۲۱ ه ش مرتبه وثایق حوزه دوم شهر کابل اسمی بسم الله فرزند عبدالغنی و وثیقه بیع جایزی نمبر (٤۰۲۱/٥۳) مورخ ۱۳۹۱/۸/۱ ه ش مرتبه محکمه وثایق حوزه دوم شهر کابل غرض تحصیل پول قروض عزیزی بانک به تاریخ ۱٤٤٥/۹/۲۸ ه ق مطابق ۱۹/ حمل / ۱٤۰۳ ه ش دایر گردید که در نتیجه با در نظر داشت محضر تاریخی ۱٤٤٥/۹/۲۸ ه ق اسامی محمد شریف فرزند پیر محمد ولدیت علیم گل با ارایه بلند ترین قیمت مبلغ ٥۹۰۰۰۰۰۰ پنجاه و نه میلیون افغانی برنده مجلس داوطلبی شناخته شد .
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش اشتراک در مجلس مزایده را داشته باشند درخواست های خویش را در خلال مدت ۱۲ روز کاری اعتبار از تاریخ نشر اعلان به ریاست حقوق ولایت کابل واقع تعمیر سابقه وزارت عدلیه پشتونستان وات و یا اداره محترم عزیزی بانک بسپارند ، تضمین صورت نقدی اخذ می گردد.۳۷۹

***

اعلان داوطلبی موازی (١٤٦٠٠) متر مربع زمین سفید واقع ولسوالی بگرامی ولایت کابل!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد دولتی ذیل را بشکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد:
۱- موازی (١٤٦٠٠) مترمربع زمین سفید واقع ولسوالی بگرامی ولایت کابل دارای کور دینات طول البلد ٦۹,۲٦۱۳ و عرض البلد ۳٤,٥۰٤٦٥ میباشد.
شخاص، موسسات و شرکتهای محترم که واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را ۲۸/حمل /۱٤۰۳ الی ۳/ ثور/ ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر سپرده و شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون باز گشت را پرداخت نمایند.

***

اعلان داوطلبی (٥١,۸۸) جریب زمین شهرک هوشمند واقع شهرک آریا مربوط ناحیه ۱٥ شاروالی کابل!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (٥١,۸۸) جریب زمین شهرک هوشمند واقع شهرک آریا مربوط ناحیه ۱٥ شاروالی کابل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲،۳۳٤،٦۰۰) افغانی طور موقت به اعلان داوطلبی می سپارد.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥٦۳٦-٦۹,۱۸۷٥
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را طور موقت داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۲۹/حمل/ ۱٤۰۳ الی ۱۱/ثور/۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی نموده و شرطنامه را در بدل (۳۰۰۰) افغانی پول بدون باز گشت اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر۱٤ منزله، منزل ٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرارداد های مرکز
شماره تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)
مجلس داوطلبی ۱۲/ ثور/۱٤۰۳ ۹:۳۰ قبل از ظهر برگزار میگردد.

***

اعلان داوطلبی ۲ جایداد دولتی واقع ولسوالی سروبی ولایت کابل!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد.
۱ - موازی(۱۱۹۰۰) مترمربع زمین واقع ساحه شیرخان کخ ولسوالی سروبی ولایت کابل دارای کور دینات طول البلد ٦۹,٦٦٦٦۰ و عرض البلد ۳٤,٦۰۳۸٦ است که کرایه ماهوار ابتدائی آن مبلغ (۲۳۸۰۰) افغانی میباشد.
۲ - موازی (١٤۸۷۲) مترمربع زمین واقع ساحه شیرخان کخ ولسوالی سروبی ولایت کابل دارای کور دینات طول البلد ٦۹,٦٦٦٦۰ و عرض البلد ۳٤,٦۰۳۸٦ که کرایه ماهوار ابتدائی آن مبلغ (۲۹۷٤٤) افغانی میباشد.
در صورتیکه اشخاص حُکمی و حقیقی واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند، درخواستی های خویش را از تاریخ ۲۸/ حمل /۱٤۰۳ الی ۱۷ / ثور / ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر سپرده و شرطنامه را ملاحظه نموده پول بدون بازگشت حق الاشتراک را پرداخت نمایند.

***

اعلان داوطلبی یکباب کانتین بمساحت (۱۹۰.٥) متر مربع در صحن ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام مربوط ناحیه ٦ شارولی کابل!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یکباب کانتین شامل یکباب صالون غذا خوری، یکباب آشپز خانه مجهز، یکباب اطاق فروشات ویکباب اطاق محل عکاسی و فوتوکاپی بمساحت ۱۹۰,٥ مترمربع در صحن ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام واقع دارالامان مربوط ناحیه ٦ شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰۰) افغانی به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر):۳٤,٤۷۷٤۹۹۳۱-٦۹,۱۱۸۰٦۹٤۱
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۲۹/حمل/ ۱٤۰۳ الی ۱۷/ثور/۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس:سینماپامیرتعمیر١٤منزله،منزل٥،مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز شماره تماس
( 0202924624 - 0202924607)
مجلس داوطلبی ۱۸/ ثور /۱٤۰۳ ۹:۳۰ قبل از ظهر برگزار میگردد.

***

اعلان داوطلبی (۱۹٦.٥) متر مربع واقع بند گزک فابریکه ماهیپر!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد دولتی ذیل را به شکل آفر سر بسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد.
۱ - موازی(۱۹٦,٥) مترمربع زمین واقع بند گزک فابریکه ماهیپر ولسوالی سروبی ولایت کابل دارای کور دینات طول البلد ٦۹,٤۷۹۲٤ و عرض البلد ۳٤,٥٥٥۱۰ است که کرایه ابتدائی ماهوار آن مبلغ ۹۸۳۰ افغانی میباشد.
در صورتیکه اشخاص حُکمی و حقیقی واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند، درخواستی های خویش را از تاریخ ۲۸/ حمل /۱٤۰۳ الی ۱۰ / ثور / ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر سپرده و شرطنامه را ملاحظه نموده پول بدون بازگشت حق الاشتراک را پرداخت نمایند.

***

اعلان داوطلبی موازی (۳۲۹۷,۲٥) متر مربع زمین تجارتی واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل!
ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۳۲۹۷,۲٥) مترمربع زمین تجارتی مع یک باب تعمیر مخروبه واقع ولسوالی ده سبز ولایت کابل که دارای کور دینات طول البلد ٦۹,۲٥۸٤٤ و عرض البلد ۳٤,٥۹۸٦٦ است را از طریق اعلان داوطلبی به منظور افزایش عواید امارت اسلامی به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی میسپارد که کرایه ابتدائی ماهوار آن مبلغ ۱۹۷۸۳ افغانی میباشد.
اشخاص، موسسات و شرکتهای محترم که واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد فوق الذکر را داشته باشند درخواستی های خویش را ۲۸/حمل /۱٤۰۳ الی ۱۰/ ثور/ ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر سپرده و شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون باز گشت را پرداخت نمایند.

Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 16 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 428


# د اختر دریو ورځو کې
# تر ۱۰۰ زیاتې ټرافیکي پېښې ثبت شوي



د ټرافیکو عمومي رییس پاسوال حسیب الله مختار وایي، د تېر کوچني اختر په دریو ورځو کې په ټول هېواد کې ۱۰۲ ترافیکي پېښې شوي، چې له امله یې ۲۳۵ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې. ښاغلي مختار پرون د یوې خبرې ناستې پر مهال ویلي، چې له دې ډلې ۵۰ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۱۸۵ نور ټپیان دي. د ټرافیکو ریاست دغه ارقام وروسته له هغې ورکوي، چې هر کال د اختر په شپو او ورځو کې په ښارونو او لویو لارو کې د زیاتې ګڼې ګوڼې او د موټر چلوونکو د بې احتیاطۍ له امله زیاتې ټرافیکي پېښې رامنځته او خلکو ته پراخه مرګژوبله اوړي. دا په داسې حال کې ده، چې نږدې میاشت وړاندې د اسلامي امارت د کابینې په شلمه غونډه کې د ټرافیکي پېښو د مخنیوي په موخه یوه طرحه تائید او د کورنیو چارو وزارت په ګډون یې ځینو ادارو ته تطبیق لپاره دنده سپارل شوې.

## رویدادهای خارجی

### مسکو؛ امنیت شورا پر دوه مخۍ تورنه کړه

ملګرو ملتونو کې د روسیې دایمي استازي د ملګرو ملتونو امنیت شورا کړنې خپلسرې او فرمایشي بللي او دغه شورا یې د هیوادونو ترمنځ پر دوه ګوني چلند تورنه کړې ده.
وایسلي نیبنزا د امنیت شورا په بېړنۍ غونډه کې چې پر اسرائیلو د ایران تر برید وروسته راغوښتې وه، وویل: امنیت شورا تل د هیوادونو ترمنځ توپیري چلند کوي.
نیننزا زیاته کړې، هغه وخت چې اسرائیلو دمشق کې د ایران پر کونسلګرۍ برید وکړ، ټولو چوپتیا غوره کړه؛ په داسې حال کې چې یاد برید د ټولو نړیوالو نورمونو پر ضد و. بل پلو، راپورونه وایي چې د امنیت شورا بېړنۍ غونډه د ژورو جنجالونو او اختلافاتو پر سر بې پایلې ته رسېدلې ده.



### اسرائیل: لس زره عسکر مو په رواني ناروغۍ اخته شوي


د اسرائیلي رسنیو د راپورونو پر اساس، پر غزه د صهیونیستي رژیم بریدونو اسرائیلو ته ناوړه پایلې لرلې دي. د عبري ۱۲ چینل راپور له مخې، د صهیونیستي رژیم اشغالګرو عسکرو اعتراف



کړی، چې پر غزه د بریدونو له پیل راهیسې یې شاوخوا لس زره عسکر له رواني ستونزو سره مخ شوي. د یاد راپور پر اساس، شاوخوا ۲۰ اسرائیلي عسکر هم د خپلو ملګرو له لوري په نښه او وژل شوي دي. یادې رسنۍ داسې مهال د صهیونیستي اشغالګرو عسکرو له رواني ماتې پرده پورته کړې، چې څو ورځې وړاندې اسرائیلو خپل عسکر د غزې په جنوب کې له ستر ښار خان یونس څخه ایستلي دي.

### وال سټریټ ژورنال:
### ښایي اسرائیل بېرته پر ایران برید وکړي

وال سټریټ ژورنال د خپلو سرچینو په حواله لیکلي، امریکایي او غربي چارواکي وړاندوینه کوي چې اسرائیل به نن یا سبا د ایران وروستیو بریدونو ته ځواب ووایي.
په ورته وخت کې راپورونه وایي چې د امریکا ولسمشر جوبایډن د هغه هیواد د کانګرس مشرانو ته په یوه ټیلیفوني تماس کې له اسرائیلو سره د پوځي مرستو د پلان پر سمدستي تصویب ټینګار کړی دی. جو بایډن له دوی څخه وغوښتل چې دا چاره باید ژر تر ژره ترسره شي.
د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت د شورا ویاند جان کربي اې.بي. سي تلویزیون ته وویل چې امریکا بې له شکه اسرائیلو سره مرسته کوي خو په جګړه کې ځان نه ښکېلوي.
نوموړي ویلي چې دوی په سیمه کې د کړکېچ د زیاتېدلو پلوي نه دي.




### پاکستان کې تر درنو اورښتونو وروسته بېړنۍ وضعیت اعلان شو

د پاکستان په جنوب لوېدیځ کې له سختو بارانونو وروسته ایالتي حکومت بېړنی حالت اعلان کړی دی. اسوشیتید پریس خبري اژانس وایي چې دغلته له تېرو دریو ورځو راهیسې پرلپسې بارانونه اوري چې تر اوسه یې ۳۶ کسان وژلي دي.
اشوشیتیډ پرس وایي چې وژل شوي اکثر ښوال او کروندګر دي.
پنجاب ایالت د طبیعي پیښو د مدیریت اداري ویاند عرفان کاتیا ویلي، ډېره مرګ ژوبله هغه مهال رامنځته شوه چې دغلته تالندې په ځمکه ولګېدې او د خلکو کورونه یې ونړول. هغه وایي، په دې اوونۍ کې د نورو بارانونو وړاندوینه هم شوې ده. تر پنجاب وروسته بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې هم اورښتونو ملکي وګړي زیانمن کړي.


توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


## د ایران او افغانستان سوداګري؛ له ایرانه تر یو میلیارد ډالرو زیات توکي راوارد شوي



ایراني رسنیو خبر ورکړی، چې په تېر کال کې افغانستان ته د ایران د نفتو صادرات یو میلیارد او ۸۷۱ میلیونه ډالرو ته رسېدلي دي. د دغه هیواد د چارواکو په وینا دا رقم د ورم کال په پرتله ۱۳٫۶ سلنه زیاتوالی ښیي.
په افغانستان کې د ایران د سوداګرۍ او صنایعو چارو سلاکار حسین راستي ... ۳مخ

## برگزاری نمایشگاه سه روزه (عالیست، افغانی‌ست) در پروان

ریاست صنعت و تجارت پروان در همکاری با نهاد ها و شرکت های همکار، نمایشگاه سه روزه‌ی عالیست ، افغانی‌ست را برگزار کرد.
در این نمایشگاه، تولیدات و محصولات وطنی شامل صنایع دستی، خامک دوزی، گلدوزی، محصولات زراعتی، غذاهای محلی پیش چشم بازدید کنندگان برای سه روز به نمایش گذاشته شد.
حافظ راز محمد یاسر، رئیس صنعت و تجارت پروان به آژانس باختر گفت که این چهارمین دور از نمایشگاه ملی (عالیست افغانی‌ست) است که در پروان با ایجاد صد غرفه به هدف بازار یابی برای تولیدات داخلی، ترویج صنعت ملی، آگاهی مردم از فرآورده های زراعتی و صنعتی، فراهم سازی زمینه کاری کوتاه مدت ، تبادل فرهنگ، رسوم و عنعات داخلی و زمینه سازی برای عقد قرارداد ها میان تاجران و صنعت کاران برگزار شده است.
رییس صنعت و ... ص۳



## سرازیر شدن سیلاب در ننگرهار تلفات جانی و خسارات مالی برجا گذاشت



مقام‌های محلی ولایت ننگرهار می‌گویند، در نتیجه سرازیر شدن سیلاب در مربوطات این ولایت تلفات جانی و خسارات مالی برای مردم به بار آمده است.
دفتر رسانه‌های والی ننگرهار با نشر خبرنامه‌ای در ایکس، از تلفات و خسارات مالی سیلاب‌های اخیر در این ولایت، خبر داده است. ص۳

## پنجصد بته گل فصلی در مسیر سرک باغ بالا غرس گردید

به منظور ایجاد زیبایی شهری، پنجصد بته گل فصلی در سرک باغ بالا از سه راهی کارته مامورین الی کارته پروان از سوی ریاست سرسبزی شاروالی کابل شانده شد.
مولوی عبدالوکیل متوکل ریس سرسبزی شاروالی کابل گفت: به منظور ایجاد زیبایی و طراوت در گلدان ها، پارک ها و نقاط بارزسطح شهر قراراست بته گل های فصلی غرس و مراقبت شود.
به گفته وی این گل ها از طریق گرین حوض ها( خانه های سبز) مربوط ریاست سرسبزی شاروالی کابل آماده شده است که نسبت به سال گذشته رشد و نموی خوبی دارد.
وی توقع برد که شهروندان در حفظ و نگهداشت نهال ها و گل ها شاروالی کابل را یاری رسانند، و از کندن گل و بته گل جداً خود داری نمایند.



## کندهار او ارزګان کې اورښتونو ګڼې کورنۍ ویرجنې کړي



د کندهار او ارزګان ولایتي چارواکي وایي چې د وروستیو اورښتونو له کبله کندهار او ارزګان ولایتونو کې ګڼو هیوادوالو ته ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي.
د ارزګان مرکز ترینکوټ او کندهار شاه ولیکوټ ولسوالۍ کې۵ تنه ماشومان وژل شوي ... ۳مخ

## لوګر کې نږدې شلو زرو زده کوونکو ښوونځیو ته مخه کړې




د لوګر د پوهنې ریاست مسوولین وایي چې د روان ۱۴۰۳ ښوونیز کال له پیلېدو سره هممهاله نږدې ۱۸زره د ښوونځي عمر برابر نوي ماشومان ښوونځیو کې جذب شوي دي. د دغه ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاپورعرب وایي، چې یاد زده‌کوونکي هلکان او نجوني دي ۲۸۱ ښوونځیو کې جذب شوي چې ټولو یې په ښوونځي کې د شاملېدو عمرونه بشپړ کړي دي. عرب زیاته کړه، په جذب شویو زده‌کوونکو کې ۱۲زره هلکان او ۶زره نجونې شاملې دي چې له جذب وروسته دوی ته درسي کتابونه او درسي توکي هم ورکړل شوي دي.